دتقوی ، برکت ، رحمت اونصرت دنیکمرغه میاشتې حلول ټولو مسلمانانو ته مبارک او په افغانستان کې داسلامي حکومت دقیام په دعا بختورغواړو

PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مــراة الجــهاد

لومړي کال ، (۲۷) گڼه چهارشنبه د۱۳٦۹ هـ ش کال دحوت (۲۹)

دخوست په کلابند شوي ښار باندې د مجاهدینو گډ عملیات

په (۸) مخ کی

مجاهدینو دبادغیس ولایت ۷۵ غونډ اوداب کمري ولسوالی فتحه کړل

بادغیس ، میډیا

دبادغیس ولایت مجاهدینو دهغو پرله پسې بریدونو په ترڅ کی چی دحوت دمیاشتی له لمړی نیټی څخه بی تراوومی نیټی پوری دبادغیس ولایت پر مرکز باندی ترسره کړل دقلعه نو دوسله والو قواو (۷۵-ام) غونډ اوقلعه نو ښارپه جنوب لویدیځه خواکی داب کمری ولسوالی فتح کړل .

میډیا دکندز ولایت دمجاهدینو په حواله دغه

اتم مخ کې

دقبایلو داتحاد مشر حاجي ممتازخان سره مرکه :

له مجاهدینو سره هرډول مرسته او همکاري زموږ اسلامي مسوولیت او مکلفیت بلل کیږي

دوهم مخ کی

امریکا به ایران اخطار داد

جورج بوش رئیس جمهور ایالات متحده امریکا به ایران اخطار داد تا درامور داخلی عراق مداخله ننماید.

رادیو صدای امریکا گفت : بوش درسفر به کانادا ضمن ابراز تشویش ازناارامی های موجود درعراق گفت ایران نباید بااستفاده ازبی ثباتی جاری درعراق درامور داخلی انکشور مداخله نموده انرا تجزیه نماید.

درخبر امده است بوش گفت گرچه اطلاعات بدست ندارد که ایران اینکارراکرده باشد اما درصورت اینگونه عملکرد ایران فایدهٔ بدست نخواهد اورد .

همچنان بوش به دولت عراق بخاطر کاربردسلاح خطرناك علیه مخالفین رژیم صدام اخطار نموده گفت که امریکا ومتحدینش درمنطقه طرفدار تجزیه وپارچه شدن عراق نمیباشند .

جنرال نورالحق علومی وعبدالحق علومی سبکدوش شدند

خبرنگارمیدیا ازکابل خبرمیدهد که درنظر بود جنرال نورالحق علومی اتشه نظامی رژیم مزدورکابل درچکوسلواکیا بجای اسلم وطنجار که بانجیب رئیس رژیم کابل اختلافاتی پیداکرده به وزارت دفاع منصوب گردد.

جنرال نورالحق که بدین مناسبت اخیرا به کابل خواسته شده بود ازطرف مشاورین روسی مسترد شده وبالاخره بابرادرش عبدالحق علومی به عنوان اعتراض بااین فیصله درخانه نشسته اند .

تشدیداختلاف میان روس والمان

اختلافات میان روسیه والمان هنگامی اوج گرفت که روسیه اریش هونیکر رهبر کمونستی المان شرقی قبلی راتحت بهانه تداوی عاجل طبی به مسکو برده است .

طبق یك خبر رادیو بی ، بی ، سی وزیر خارجه المان باین ارتباط گفته است که روسیه باین عمل ازقوانین بین المللی سرپیچی نموده است ولازمست هونیکر را به المان تسلیم دهد .

درخبر امده است وزیر خارجه روسیه گفته است که هونیکر راروسیه بخاطر تداوی عاجل طبی به مسکوبرده والمانیها را ازموضوع قبلا مسبوق نموده است .

باید علاوه کرد که اریش هونیکر یکی ازعمال پرسابقه کی ، جی ، بی روس بوده وبااوجگیری نهضت ازادی خواهی مردم المان شرقی ازقدرت افتاده ومردم المان خواهان محاکمه موصوف میباشند بنا قراربود موصوف دریکی ازمحاکم المان به اتهام سوء استفاده مالی وسیاسی محاکمه گردد موصوف به حمایت روسیه به بهانه علالت ومریضی تاحال به محکمه احضار نگردیده بود واکنون به کمك کی ، جی ، بی مخفیانه به مسکو فرارنموده است .

روژه د رحمتونو او برکتونو میاشت

دریم مخ کی

دکابل حیرتان پرلویه لار د رژیم پر اکمالاتی قطار باندې دمجاهدینو حمله

دسمنگان ولایت مجاهدینو په هغه راپورکی چی په پیښورکی دقوماندانانو شورا ، نظامی دفتر ته مخابره کړی ویلی ، چی دنوموړی ولایت زړورو مجاهدینو دمزدوررژیم هغه اکمالاتی قطار چی له حیرتان بندر څخه کابل ته روان ؤ دمزارشریف اوتاشقرغان دلویی لاری په منځ کی ترخپل برید لاندی ونیو چی په نتیجه کی ددښمن څلورعرادی زغروال ټانکونه او۱٦ عرادی نقلیه وسایط وسوځیدل ، اودښمن له افرادو څخه ۲٦ کسان ووژل شول .

خبرځای زیاتوی چی ددی عملیاتو په لړکی چی دحوت په ۲۳ مه نیټه ترسره شول ددښمن اوه عرادی نقلیه وسایط چی خوراکی موادیی درلود ، ۱۳ میله کلاشینکوفونه اویو میل پی ، کا ماشیندار په غنیمت ونیول شول همدارنگه ددښمن ۷ کسه عسکر هم ژوندی ونیول شول .

دعراق دحکومت مخالفینو دشمالی سیمو کنترول ترلاسه کړی

لندن دکب ۲٦ مه :

دامریکی متحده ایالاتو ادعاکړی ده چی هغوی ددی خبری گواهی ورکولای شی چی عراقی کردیانو دترکیبی پولی ته نژدی ، دشمالی سیمو کنترول په خپل لاس کی اخیستی .

په واشنگټن کی دامریکی حکومت یوه ویندوی ویلی دی چی دصدام حسین دپلوی پوځ اود هغی مخالف پوځیانو ترمنځ دعراق په نورو سیمو کی هم جگړه روانه ده .

دامریکی یوه لوړرتبه پوځی قوماندان په جنوبی عراق کی دامریکنی پوځونو دنقل اوحرکت په هکله وویل چی دوی یوازی دخپل موجودیت ښکارندویی کوی اودعراق له خلکو سره کومی اړیکی نلری .

اعتصاب کارگران زغال سنگ درروسیه

کمبود زغال سنگ به اثر اعتصابات دوامدار کارگران معادن زغال سنگ روسیه وضع رادرانکشور وخیم ساخته است .

طبق یك خبررادیو صدای امریکا : مقامات اوکراین درنتیجه اعتصاب کارگران زغال سنگ مجبور شدند پنج فابریکه فولاد را مسدود سازند ، همچنان مقامات عالیرتبه نفتی روسیه نیز هشدار داده اند که صنعت نفت به سقوط نزدیك گردیده است .

کارگران معادن زغال سنگ خواهان افزایش معاشات وتغیرات درریفورمهای سیاسی میباشد

تاس اژانس خبری روسیه نیزگزارش کرده است که این اعتصاب فابریکه های فولاد رامجبوربه بستن نموده است .

سرمقاله

قیام هرات صفحه خونین اما پرافتخار جهاد ملت افغان

جهاد وقیام دوازده ساله مردم مسلمان افغانستان علیه ابر قدرت روس وچاکران ان حاوی چنان قربانیها وفداکاریهای فراوان وبی مانند انفرادی وگروهی است که درتاریخ قیام ها ومقاومت های سایر کشورها بمشاهده نمیرسد.

هنگامیکه حکمروایان کرملین بخاطر تحقق ارمانهای شوم خویش توسط عمال ونوکران زرخرید کمونست خویش کودتای خونین هفت ثور ۱۳۵۷ رابراه انداختند مردم مسلمان افغانستان ازبدوامرباتو جه به چهره منحوس وضد اسلامی وضد وطنی حزب وطنفروش خلق پرچم عدم همکاری وهماهنگی رابان علنا اعلام نموده بخاطر نجات وطن ومردم مسلمان افغانستان دست خالی به مقاومت ومجاهدت برخاسته درین راه ایثار نمودند وجانها فشاندند .

درصفحه ۸

دبلخ په ولایت کې دمجاهدینو اوددښمن دملیشه و ترمنځ نښتې

بلخ میډیا :

میډیا دبلخ ولایت دیوی جهادی منبع په حواله خبرورکړی چی ددی ولایت په مربوطاتو کی دمجاهدینو اوددښمن دملیشه و ترمنځ دیو لړ نښتو په نتیجه کي دررژیم نظامی قواو ته درانه تلفات وراړولی . خبرځای زیاته کړی چی دغه عملیات دحوت په ۱۵ مه ترسره شوی اوددښمن له افرادو څخه ۵ کسه مړه ، ٦ تنه ټپیان او۱۲ کسه نوریی له وسلو سره ژوندی نیول شوی . همدارنگه دبلخ ولایت دیوه بل خبرله مخی دحوت په ۱۲ مه نیټه مجاهدینو دچمتال ولسوالی مربوط داقتیپه دکلی پرپوستو برید وکړچی ددښمن یوه پوسته ویجاړه ، ٤ کسه عسکر مړه او۳ کسه ژوندی ونیول شول .

همداراز مجاهدینو دحوت په لسمه نیټه دبلخ ولایت دبادگاه پرپوستی برید وکړ ، چی دررژیم ٦ تنه عسکر پی ووژل او ٤ کسه نوریی ټپیان کړل پدی عملیاتو کی ددښمن ۵ کسه عسکر ژوندی ونیول شول .

دهرات دمسلمانو خلکو پاڅون دکمونیزم اوالحاد پرضد زموږ دمتدینو خلکو دقربانیو یوه ستره نمونه ده

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

له مجاهدینو سره هر ډول مرسته او همکاري زموږ اسلامي مسوولیت او مکلفیت بلل کیږي

مرکه کوونکی: «صدیق مل»

پوښتنه :- مهربانی وکړی ترټولو لومړی خپل ځان دجریدی لوستونکو ته معرفی کړی ؟

ځواب :- زما نوم حاجی ممتازخان په قوم مومند او دشبقدر او سیدونکی یم او دڅوارلس کلونو راهیسی دقبایلو داتحاد مشری راپه غاړه ده.

پوښتنه :- دروسانو مزدوررژیم په قبایلو کی دخپلو پلویانو له لاری دطورخم دلویی لاری دخلاصولو لپاره پټی او ښکاره هلی ځلی پیل کړی ، تاسی دغه هلی ځلی څنګه ارزیابی کوی ؟

ځواب :- پدی باب نه یواځی داچی زما نظر دی ، بلکه زموږ په اتحاد کی دټولو کسانو دا نظر دی ، چی دطورخم دلویی لاری خلاصول دکابل دګوډاګی رژیم دپښتوتهینګول دی موږ ددی لاری دخلاصولو په حق کی هیڅکله نه یو او نه چاته اجازت ورکوو.

هغه کسان چی ددی لاری دخلاصولو لپاره منډې ترړی وهی ، دوی په حقیقت کی دنجیب ګوډاګیان دی ، او غواړی دالار دکابل دګوډاګی رژیم په مخه خلاصه کړی ترڅو له یوی خوا دښمن قوی شی او له بلی خوا دمجاهدینو اصل هدف ته خطر ورواړه وی ، زه پوهیږم چی نجیب ددی لاری په خلاصولو کی ډیری هڅی کوی ترڅو خپلو پوځیانو ته خوراکی مواد له دی لاری ورسولای شی . خو موږ ددی لاری دخلاصولو په کلکه مخالف یو ، او نه چاته ددی اجازه ورکوو چی دالاره څوك خلاصه کړی .

پوښتنه :- دنجیب په مشری دروسانو مزدوررژیم تل داهڅه کوی چی په ځینو قبایلی سیمو کی دخپلو پلویانو په وسیله دمجاهدینو دتګ راتګ په لارو کی خنډونه رامخی ته کړی ، تاسی دامسئله داسلامی شریعت او قبایلی روایتونو له مخی څنګه ګڼی ؟

ځواب :- داسلامی شریعت او دقبایلو دروایاتو او دپښتو ددود او دستور له مخی موږ داخبره ډیره بده ګڼو او په کلکه یی مخالف یو ، روسان او دهغوی ګوډاګیان زموږ ددین او اسلامی عقیدی دښمنان دی او داوړ خلك داسلامی شریعت په نظر کی ملحدین بلل کیږی مسلمانان ندی ، مجاهدین نه یواځی داچی زموږ میلمانه دی بلکه ددی ترڅنګ زموږ دایمان او عقیدی ورونه دی ، ددوی هرنوع تعاون او همکاری زموږ اسلامی مسئولیت او مکلفیت بلل کیږی ، موږ دخپلو مجاهدینو ورونو هیڅ قسم تکلیف نشو برداشت کولی ، څوك چی ددوی په لارو کی خنډونه جوړه وی هغه دکمونستانو ګوډاګیان دی .

> **موږ پدې جهاد کې عملي برخه اخستې ده او زموږ ډیر قبایلي ورونه پدې اسلامي جهاد کې په شهادت رسیدلي دي**

پوښتنه :- تاسی دقبایلو دمشر په صفت تراوسه دافغانستان له مجاهدینو او مهاجرینو سره داسلامی ورورولی له مخی څه ډول مرستی کړیدی ؟

ځواب :- موږ دجهاد له ابتدا څخه نیولی ترننه پوری دمهاجرینو ، مجاهدینو ورونو کلك ملاتړ کړیدی او څه چی موږ توان درلود له مجاهدینو موندی سپمولی له کومی ورځی چی قبایلی سیمو ته مهاجرین راغلل ، نورو شمیر کسانو ناوړه تبلیغات پیل کړل ، ترڅو خلك دیته چمتو کړی چی مهاجرینو ته ځای ورنکړی دوی به ویل مهاجرینو ته موږ ځکه ځای نه ورکوو چی زموږ له سیمی څخه به یالبنان جوړشی او یا ویتنام ، زه پوهیږم چی داخلك په حقیقت کی دروسانو ملګری وو خو موږ ددوی دتبلیغاتو مخه نیوله ، موږ به ورته ویل چی مهاجرین دقرآن عظیم الشان دارشاداتو او دسنت رسول کریم (ص) په لاره راغلی ، ددوی هرقسم مرسته زموږ اسلامی مسئولیت دی .

زموږ ټولی لاری دمهاجرینو ورونو لپاره خلاصی دی خو ددی ټولو سره زه داویلی شم چی موږ ددوی کما حقه مرسته نده کړی ، موږ هسی ونکړل لکه چی دمدینی انصارو دمکی مهاجرینو سره کړی وو ، زموږ همیشه داکوشش وو او هم به وی چی په مهاجرینو ورونو تودباد هم ونه لګیږی .

بل زموږ قربانی داوه چی زموږ ډیر قبایلی ورونه پدی اسلامی جهاد کی په شهادت رسیدلی دی موږ پدی جهاد کی عملی برخه هم اخیستی ده چی یو ځل زموږ څلور ملګری دروسانو دمزدوررژیم پوځیانو له خوا ونیول شول چی ترننه پوری یی دژوند او مرګ هیڅ درك معلوم نشو ، خو موږ مطمین

په شپږم مخ

روسي دیکتاتوران وروسانو ته څه ورکړل؟

«ح، وحدت»

کله چی په تیر دسمبر کی بیکر دامریکا خارجه وزیر دروس له خارجه وزیر شوارد نادزی څخه وغوښتل چی روس که دخپلو پوځونو یو وړوکی ټولی هم دخلیج په لوړ واستوی دابه دصدام په خلاف اعلان شوی تهدید ته وزن ورکړی، ولی دروس خارجه وزیر وویل چی دوی ته داکار ممکن ندی او عام خلك په روس کی ددی مخالف دی

> **شوارد نادزي وویل : موږ په افغانستان باندې په یرغل سره نه یوازې ټوله نړۍ دځان مخالفه وګرزوله بلکه په دې ډول موانساني ارزښتونو ته هم په سپکه وکتل**

هیرالد تریبون مشهوره غربی ورځپاڼه خلیج ته دروسی پوځونو دنه استولو مهم علت په افغانستان کی دروسانو ترخی خاطری او لدی اړخه په روس کی رامنځ ته شوی نوښتونه بولی (هیرالد تریبون ۱۲ دسمبر ۱۹۹۰) .

په روس دافغانستان دجګړی اثرات شوارد نادزی خپله ښه په ګوته کوی شوارد نادزی په ۱۹۸۹ کال کی دشوروی عالی شورای ته په خبرو کی په داګه وویل چی :

« موږ په افغانستان باندی په یرغل سره نه یوازی ټوله نړی دځان مخالفه وګرزوله بلکه پدی ډول مو انسانی ارزښتونو ته هم په سپکه وکتل »

دادژوند منلی شوی اړخ دی ، چا چی بل ته په سپکه وکتل خپله سپکیږی دادافغانانو او کلك ګناردی چی نن روسان له لوږی مری او لکه څنګه چی پرون دوی افغانان په زور له خپلو کورونو ایستل نن روسان له لوږی له خپلو سرحدونو تښتی دروسی وږیو خلکو دتیښتی لړۍ همدا اوس په فنلنډ ، سویډن او ناروی کی ګڼه ګونه راپورته کړی او سرحدی ځواکونه دهغوی په تم کولو کی عاجز شوی دی.

دتیرکال په دسمبر کی دناروی دسرحدی پولیسو مشر په kar kinez نومی ښارکی خبرداری ورکړچی سرژمی به دروسی خلکو دزیاتوالی په وجه له مشکلاتو سره لاس په ګریوان وی ، دپولیسو مشر وویل کله چی په سل ګونو روسان وږی ماشومان په غیږو کی ترپولو رانتوزی موږ څه کولای شو؟ له روس سره دناروی د۱۹۶ کیلو متره ګډ سرحد دامنیت مسئول (هوګو اورګرد) وویل چی دده هیواد بیله دی چی له وږیو روسانو سره مرستی ته ځان چمتو کړی بله هیڅ چاره نلری ده زیاته کړه.

په اووم مخ کی

هند دیوه نوي بحران په منګولو کې

جهادګر

په تیرو (۱٦) میاشتو کی چندرشیکر دهند دریم صدراعظم دی چی استعفی کوی او هندوستانی سیاست دیوه بل سخت بحران منګولو ته لویږی.

دکتونکو او مبصرینو په عقیده دهندوستان داسیاسی کشاله که هرڅنګه وی او مختلف عوامل واری خودراجیو ګاندی سازشونه ددغه بحران په رامنځ ته کولو کی بی اغیزی ندی کله چی په انتخاباتو کی راجیو ګاندی شکست وخوړ نو دجنتادل ګوند دوی پی سنګهـ په مشری دحکومت چاری په لاس کی ونیولی خو دهغه دحکومت لاڅومیاشتی نه وی تیری شوی چی دهغه مرستیال دیوی لال ورسره دمخالفت لارونیوله او ویل کیږی چی دوی پی سنګهـ مخالفت ته ددیوی لال په هڅونه او چمتو کولو کی راجیو خورا لوی لاس درلود .

هماغه ؤ چی دیو کال په دننه کی وی پی سنګهـ استعفی ته اړشو .

داوخت په هندوستان کی دسك ازادی غوښتونکو مبارزه ډیره توده روانه وه وی پی سنګهـ دصدارت دڅوکی دترلاسه کولو وروسته دسکانو په مذهبی اماکنو اوګودوارو وګرځید او داهڅی یی پیل کړی چی دراجیو ګاندی دحکومت په وخت کی دسکانو راولاړشوی وسله وال حرکت دیوه سوله ائیز مانورله مخی غلی کړی پدی موده کی دهند دکورنیو چارو وزیر مفتی محمد سعید داغوا کیدو مسئله هم رامنځ ته شوه او دڅه وخت له پاره یی دوی پی سنګهـ حکومت له پاره سرخوږی او مشکلات رامنځ ته کړل .

خوتردی ټولو زیات دوې ربړی داسی دی چی دهند دپراختیا غوښتنی سیاست یی ډیر تهدید وی یو په هندوستان کی دننه دسکانو وسله واله مبارزه او بله په کشمیر کی دازادی دغورځنګ دڅپو چټکتیا او پراختیا

په کشمیر کی دازادی غورځنګ نه یواځی داچی دهند-وستانی واکمنو دزور او فشار له امله په شانه شو بلکی لانورهم پیاوړی شو هندوستانی واکمنو که ګورنر راج نافذ کړ او که وحشی جګ موهن ته یی دازادی دغورځنګ دځپلو قوماندہ ورکړه او یایی نوری حربی او مانوری وازمویلی خو دکشمیر ازادی غورځنګ دوینو په سمندر کی دازادی ساحل ته خپل یون جاری او ګړندی وساته او نن سبا لیدل کیږی چی دکشمیر دازادی غورځنګ دیوه منظم پوځی او سیاسی حرکت په توګه ځانته دنړیوالو په سترګو دځای په پیداکولو او دخپلو حقوقو دترلاسه کولو په لارکی بری مومی .

دوی پی سنګهـ له استعفی وروسته چندرشیکر دراجیو په ملتیا صدراعظم وټاکل شو پدی ډول په پارلمان کی دچندرشیکر ٥٤ کسیزی ډلی دراجیو ګاندی دکانګرس د۱۹٤ غړو ملاتړ ترلاسه کړ پدی ډول دیوه کال په دننه کی چندرشیکر ددریم صدراعظم په توګه حکومت ته ورسید .

چندرشیکر هغه وخت استعفی ته مجبور شو چی دراجیو کانګرس له هغه سره په خپل ملاتړکی په شاشو په ظاهر خو راجیو ګاندی داپلمه ونیوله چی دحکومت له خوا دراجیو په کور دڅارنی له پاره پیره لګول شوی ځکه خودکانګرس غړو په پارلمان کی بایکاټ وکړ لوی ورځی دکانګرس نماینده ګان پارلمان ته حاضر نشو ل او چندرشیکر له خپلو ٥٤ غړو سره دحکومت

په اووم مخ

روژه درحمتونو اوبرکتونو میاشت

سیدعبدالله

روژه داسلام دسپیڅلی او مقدس دین دپنځو ارکانو څخه دریم او مهم رکن دی او پرهر مسلمان باندی چی روغ اوبالغ وی فرض ده.

روژی ته په عربی ژبه کی «صوم» اودروژی میاشت ته رمضان وایی روژه په لغت کی مطلق بندیدلو ته وایی اوپه اصطلاح کی دځینو څانگړو څیزونو نه دیو مسلمان منع کیدل دی دڅانگړی وخت لپاره دمثال په توگه دصبح صادق نه نیولی ان ترلمرلویدو پوری دخوراك، څښاك او جماع نه دیو مسلمان ځان ژغورلوته روژه وایی.

درمضان کلمه د«رمض» نه مشتق ده، «رمضان» په عربی ژبه کې سیزلوته هم وایی.

څکه نو درمضان میاشت دمؤمنانو دگناهونو، سهو او خطاگانو دسیزلو میاشت هم ده.

الله پاك ددی میاشتی دروژوپه نیولو او توبه کولو دخپلو مؤمنانو بندگانو گناهونه وربخښی - څکه خو ورته دگناهونو دسیزلو میاشت هم ویل کیږی، روژه هم لکه داسلام دسپیڅلی دین دنورو ارکانو په څیر یو فرض دی اوفرضیت یې دخدای «ج» ددی مبارك ایت دحکم له مخی ثابت شوی چې فرمایی: ترجمه: «ای مؤمنانو په تاسو باندې فرض کړای شوی روژی. لکه څنگه چې ستاسو نه په وړاندی قومونو باندی فرض کړای شوی وی. ښایې چې تاسو وویریږی. البقره (۱۸۳)

درمضان دمبارکې میاشتې دروژو نیولو حکم مدینی منوری ته ترهجرت (۱۸) میاشتی وروسته یعنی په دویم هجری کال راغلی دی. دروژی مبارکه میاشت برسیره پردی چې ډیره دبرکتونو، نیکبختیو اونعمتونو میاشت ده - دیو مجاهد مسلمان لپاره دروزنی او دراتلونکو ربړونو او کړاوونو سره دمقابلی لپاره دزغم، صبر او امتحان میاشت هم گڼلی شی.

څکه نو روژه هم دانسان په ښه روزنه اوتربیه کې فعاله ونډه لری. همدغه روژه ده چی مذهب دانسانانو دظاهری او باطنی روزنی لپاره غوره کړیده او مقصد تری دانسان دکار او فعالیت داړخ لاقوی کول دی په صبر او تقوی سره ترڅو په دی ترتیب انسان دحق دمخالفو قوتونو په وړاندې

(داقوتونه شیطانی وی اوکه انسانی) دمقابلی او جهاد کولو وړ اوجوگه شی.

داحادیثو له مخی روژه دوه اساسی مقصدونه لری. یوتقوی، اوبل صبر چی په پښتوکې ورته ځان ژغورنه او زغم هم ویل کیدای شی.

تقوی دی ته ویل کیږی چې سړی هر چیرته اوپه هر حالت کې خپل نفس دخدای «ج» دحدودو پابند او تابع وگرځوی. او صبر دادی چې په دی لاره کې یعنی دخدای «ج» دحدودود تابعداری په لاره کې چې له بهرنه او یادخپل باطن نه کومی ستونزی او خنډونه سرراولاړ وی په پوره هوډ او میړانه دهغی مخه ونیسی او ځان ورته ونه سپاری. داډول مقابله او جهاد کول دکوم ټاکلی وخت لپاره نه بلکی ټول عمر په مسلمان باندی لازمی دی او دروژی په مبارکه میاشت کې انسان همدا ډول تربیه او روزنه ترلاسه کوی.

> داحادیثوله مخې روژه دوه اساسي مقصدونه لري یوتقوي اوبل صبر، چې په پښتوکې ورته ځان ژغورنه اوزغم هم ویل کیداي شي

روژه دنفس دتزکیی اوله ځانه دکښته طبقی دخلکو له حاله دخبرتیا او همدا راز دلوږی، تندی او دژوند دنورو کړاوونو او ستونزو سره دپنجی نرمولو اومقابلی په خاطرد ځان چمتو کولو لپاره ډیر ښه فرصت او غوره موقع ده.

رب العزت چی انسان ته دغوره اواشرف المخلوقات کوم لقب ورپه برخه کړی په دی خاطر چی هغه دخپل خالق دټاکلو پولو اوحدودو دتیری او تجاوز نه ځان وساتی او لکه دنورو ژوو په هره دبنته اوشاړه بی لگامه او خپل سری حرکت ونکړی.

دروژی په مبارکه میاشت کې هم انسان خپل خواهشات مهاروی او خپلی نفسانی غوښتنی او هیلی دخدای «ج» دخوښی اورضا مطابق دروژی دمبارکې میاشتی په چوکاټ او اصولوکی دننه عیاروی.

روژه په نورو امتونو هم فرض وه خوهغه فضائل اوبرکتونه چې درمضان مبارکې میاشتی ته حاصل دی دنورو امتونو له پاره هومره نه وو دهغو فضیلتونونه یو فضیلت دادی چی دامیاشت درحمت، بخښنی او ددوزخ له اوره دنجات او خلاصون میاشت ده.

په بیهقی کې دحضرت سلمان فارسی «رض» نه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم دشعبان دمیاشتی په وروستی نیټه خطبه ولوستله اوویې فرمایل:

په تاسویوه ستره میاشت راروانه ده چې یوه ډیره مبارکه میاشت ده، داهغه میاشت ده چې په دی کې یوه شپه ده اوهغه شپه دنورو زرو میاشتو نه غوره اوافضله ده. الله پاك ددی میاشتی روژی فرض او دشپی روېول نفل گرځولی دی څوك چې په دی میاشت کی دځه ډول ښیگڼی او نیکی په کولو سره الله «ج» ته دقرب او نژدیوالی هڅه کوی داسی دی لکه په نورومیاشتوکې چې څوك فرض اداکوی څوك چې په دی میاشت کې فرض اداکړی داسی ده لکه په نورو میاشتو کې یې چې (۷۰) فرضونه اداکړی وی. روژه دصبر میاشت ده او دصبر ثواب جنت دی.

دامیاشت له نورو سره دخواخوږی اوهمدردی میاشت ده دا هغه میاشت ده چی دمؤمن رزق پکې پراخه اوزیاتیږی. که په دی میاشت کې څوك کوم روژه تی ته روژه ماتی ورکړی نودا دهغه لپاره دبخښنی او ددوزخ له عذاب نه دغاړی ژغورلو ذریعه ده اوده ته په دی نیکی سره دومره اجر ورکول کیږی لکه څومره چی روژه تی ته دروژی په نیولو ورکول کیږی او ددواړو په اجرکې هیڅ کمی نه راځی.

لنډه داچی روژه دالله «ج» دخاص رحمت او برکتونو میاشت ده چې پر خپلو مؤمنو بندگانو یې لورولی ده، دروژی برکتونه او فضائل دومره زیات دی چې په شمیرکې نه راځی او

> درمضان دمبارکي میاشتي دروژونیولو حکم مدیني منوري ته ترهجرت (۱۸) میاشتي وروسته یعني په دویم هجري کال راغلي دي

څانگړی کتابونه پری ډك دی او ډکیږی پری هم،خو مونږ یواځی ددی برکتناکې، له رحمتونو او فضیلتونو ډکی میاشتی دیاد او ذکر پخاطر پورته یوڅوکرښی دگرانو لوستونکو حضورته وړاندی کړی. څښتن تعالی دی مونږ ټولوته په ټولو ادابو او شرایطو برابر دروژو نیولو توفیق راکړی او دروژی دټولو برکتونو، رحمتونو او فضیلتونو نه دی مونږ اوتاسی الله پاك برخمن وگرځوی.

په تیرپسې:

«سلیمانوف گاجی مراد» چی د«امام شامل (رح)» په ټاټوبی (داغستان) کی سترگی غړولی دبامیان په ولایت کی دمجاهدینوسره یوځای شو، دادرس ده ته مورهغه وخت ښودلی ؤ کله چی ده ورسره خدای په امانی کوله کله چی مور مچه ورځنی واخیسته وروشانی ورته وی ویل:

«گرانه زویه! افغانستان دمسلمانانو هیواد دی، که تاهلته ولیږی پام کوه چی پرخپلو مسلمانو ورونو گولی ونه چلوی»

یوویشت کلن «سلیمانوف» په اتوورونو اوخویندو کی دپلاردریم اولاد دی مشروروور اوخوریی په دولتی ادارو کی دندی سرته رسوی اونورپاتی ورونه اوخویندی یی په سوونځیو کی زده کړی کوی، «سلیمانوف» دداغستان دمجاهد پالونکی سیمی ددربندر ښارترڅنگ مندیان نومی کلی کی زیږیدلی دهغه پلار سید لاسیویچ په یوه ترافیکی پیښی کی په حق رسیدلی اومور یی دزراعت په یوی څانگی کی کارکوی، ترڅانوی زده کړو وروسته گاجی مراد دزراعت

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطري

موږپه افغانستان کې څه ولیدل؟

دمسلم ژباړه

په پوهنځی کی شامل شو په دی پوهنځی کی یی ۶ میاشتی زده کړه وکړه اوترهغی وروسته پوځی خدمت ته جلب کړای شو، پوځ ته په جلب کولو سره هغه ډیر خوشحاله شو هغه فکر وکړ چی له دی لاری به د خپلی خوښی پوهنځی ته دداخلی چانس لاس ته راوړم دروسیی مهمو پوهنځیو کی دشاملیدو لپاره دعسکری دوری تیرول حتمی ده هغه دقانون زده کړه په «کی، جی، بی» کی ددندی سرته رسولو لپاره کوله.

«سلیمانوف» وایی: دمنځنی اسیاد اشغال شوواسلامی ریاستونو مسلمانان په روسی کی ددوهمی درجی ښاریانو په ډول شمیرل کیږی اوپه خاص ډول مسلمانانوته دشك په نظر کتل کیږی په دی خاطر اکثره ځوانان په «کی، جی، بی» کی دشاملیدواویا دکمونست گوند دغړیتوب دلاس ته راوړلو هلی ځلی کوی، ترڅو هغوی ته دغیر وفادارو اومشکوکو افرادو په سترگه ونه کتل شی، دوهمه وجه چی دجاسوسی په ادارو

> دده مور ته یوی بلی ښځی چی دمیړه یوه پښه یی دافغانستان په جنگ کی غوڅه شوی وه ویلي ؤ روسان په افغانستان کی دمسلمانانو وینی تویوي، پدی خاطر کله چی زوی دمور څخه رخصت اخیسته په اسلام مینی مور دخپل زوی غوږته داخبره وروړسوله چی دافغانستان پرمسلمانانو گولی ونه چلوي

کی دخلکو دجذبولو په اړه باید وویل شی هغه داده چی ددی ادارو شرایط معاش اواختیارات دنوروټولو ادارو په پرتله ښه دی.

د(۱۹۸۱) کال په فبروری میاشت کی کله چی پر افغانستان باندی دروسانو دیرغل څخه یوکال تیرشوی و «سلیمانوف» پوځی اکاډیمی ته راوغوښتل شو، دسفر دپیل کیدو څخه دمخه هغه دخپلی مورڅخه داجازی اوخدای په امانی اخستلو په نیت هغی ته ورغی، دده مورته یوی بلی ښځی چی دمیړه یوه پښه یی دافغانستان په جنگ کی غوڅه شوی وه ویلی و روسان په افغانستان کی دمسلمانانو وینی تویوی، په دی خاطر کله چی زوی دمورڅخه رخصت اخیسته په اسلام مینی موردخپل زوی غوږته داخبره وروړسوله چی دافغانستان پرمسلمانانو گولی ونه چلوی.

«سلیمانوف» دپولینډ سرحد ترڅنگ په «لیتوا» نومی پوځی اکاډیمی کی شپږمیاشتی تیری کړی ده هلته دسپکو اودرندو وسلو تریننگ وکړ، دوی باندی ددی تریننگ هم وشو چی څنگ دالوتکی څخه دپراشوت په ذریعی ځانونه ځمکی ته راوغورځوی.

نوربیا

جهادي ادب

يوښ غلى احساس دى چې ارام مې نه پرېږدي
په اورمې كړوي لكه چې خام مې نه پرېږدي
جرئت مې زياتوي دومره په ځان يمه پوه شوى
غافل له خپله حقه اوغلام مې نه پرېږدي

رښتيا كه ته افغان يې

رښتيا كه ته افغان يې دايمان په لاره ځه
دبل په قدم مه ځه دافغان په لاره ځه
تاريخ كې به بدنام شې چې پردېسي روان شې
اې ځويه داحمد دپاك قرآن په لاره ځه
سرتيټ چې چاته نه كړې دپيسو په مقابل كې
وسله پرځمكه مه ږده دميدان په لاره ځه
په زړه چې يې يوځه په خوله بلځه داسې نه شې
ترمرګه ښه ښكاره دمسلمان په لاره ځه
ژوندى په سرښندنه بيا سنت داسمعيل كړه
محل دقربانۍ ته خوش خندان په لاره ځه
نوره ته رسوا كيږې چې دبل ډول ته ګډيږې
دبل غلام غلام چې نه شې دكاروان په لاره ځه
نصرته كه دې سراومال هم درومي پروانشته
ښكاره درقيب مخ كې دجانان په لاره ځه

امان الله« نصرت»

لنډه كيسه

سيدشهريار

غريبي اوروژه ماتي

دځوا او شادكورونو كوچنيانو به دروژه ماتي لپاره دكمپ د ډوډۍ اودسرك دغاړې لوې چوترې ته رنګ په رنګ انګولي د مربعو او اچارو سره يو ځاى راويستلي ؤ .

بس دماښام داذان په تمه به داسي منظم ناست ؤ چې يو به هم له ځاى نه ښورېده ، ګروپ ګروپ او ټولي ټولي ! يواځې دوه وروڼه شفيع اورفيع به ؤ چې دكوچنيو ځخه بيل به خپلې چپتې او زړې كاسي ته چې هغه به هم هره ورځ دالوګانو دښوروا نه ډكه وه ناست وو ، ځينو ورانو كوچنيانو خو به كله كله د دوى دخفه كيدو او ژوړېدو لپاره يكې داهم وويل :

زمونږ سره يو ځاى مه كينئ چيرته مونږ غريبانان نه شو ؟ دوى خو خو واري په كوركي هم داخبره مورته كړې وه : چې موري زمونږ پلار نور شيان ولې نه راوړي ؟ هروخت همدا الوګان راوړي خلك ښه ښه شيان راوړي مونږ خو هيڅكله هم مربع ونه خوړه چې اخر دا ځنګه خوند كوي : مور به يې ځواب وركړ خداى پاك دې تاسې راغټ كړې بچو . كه تاسې رالوى شې نو ستاسې دلاسه به يې مونږ هم وخورو تاسې نه وينئ مشر وررور مو چيرې دى همدا يو پلار غريب مو دى چې سحرد خوارۍ مزدورۍ پسې وځي او تير ماښام راځي هر څه چې وى ستاسى مخې ته يې ږدي ، هو موري مونږ پوهيږو مونږ نه خفه كيږو خو ځنې واړه زمونږ پورې خاندي كاسه رانه راكاږي اوټوقې ورپورې كوي ، نور مونږ روژه ماتي نه وباسو . نه خيرږدې خداى ځوك ماړه اوځوك غريبانان پيداكړيدي دهرچا خپله برخه ده دچا

په پنځم مخ

تكل

صديقي

اوښكې

هغه داسې حالت ؤ چې انسان داوښكو څخولپرته ښه نه ښكاريده اوكه بيا دچا زړه دتيږې په شان سخت هم وي نوحتماً به يې ژړلي وي .

هغه داسې حالت ؤ چې دټولو له سترګو اوښكې څڅيدې ، داسې انسان مې ونه ليدچې مخامخ ورته ودريږي اوپه سترګو كې يې اوښكې رانشي داهغه ديدن ؤ چې بايد اوښكې وريانډي څڅيدلې وى ، داوښكو دڅڅيدلو لپاره داځاى مناسب هم ښكاريده ، حتى دهغه ډاكټرپه سترګو كې هم چې دى يې پانسمان كاوه اوښكي ډنډې وى ، ددى سره سره چې وايي دډاكټرى په قاموس كې دانشته چې پرناروغ اوښكې وڅڅوي .

مورځويي بيخي چاته وارهم نه وركاوه ، حق يې هم ؤ چې اوښكې يې پرې څڅولى وى ، ځكه دژوند دملګرى يواځينى امانت يې ؤ ، دژوند يواځيني اسره يې وه ، همداؤ چې دې به يې په تمه داوه ژوند كاوه .

هغه چې دخپل زوى ترڅنګ په داسي حال كى چې دوه پښتي اوښي لاس يې غوڅ شوي ؤ اونوروجود خاصتاً مخ يې داسې ټپي اوسوى ؤ چې دپيژندلو نه ؤ كيناسته ، اوبيا په هغه لحظه كي چې داپرې ورتيته شوه اوغوښتل يې دوينو خړوب مخ ځخه يې مچه واخلي ماوې چې دسترګو به يې داوښكو پرځاى وينې وڅاڅي خونه بياهم اوښكې وې چې دهغه په وينو ككړمخ باندې وڅڅيدې اودهغه پرمخ يې دوينو په منځ كې ليكه وايستله .

يك داستان كوتاه

ج .سائل

قصه ناگفته

صداى زنجير دروازه كه به شدت زده مى شد مرااز خواب بيدار ساخت چراغ اطاق را روشن كردم ، به ساعتم ديدم ، چهاربعد ازنيمه شب بود باخود گفتم نيمه هاى شب ومهمان ! ان شب يكى ازشبهاى سرد ودراززمستان بود ، خواستم بروم دروازه راباز كنم .

ازاطاق بيرون شدم ، پدرم راديدم كه بطرف دروازه ميرفت خواستم من دروازه را بازكنم ولى پدرم گفت : صبركن خودم ميروم ، صداى ضرب هاى وارده به دروازه شديد ترمى شد ومطمئن شدم كه كوچگى هاى مارا ازخواب بيدارساخته است .

پدرم وقتى به دروازه نزديك شد پرسيد؟

كه بود ؟

صداى كريهى ازانطرف جواب داد : ماخارندوى هستيم امده ايم اين خانه راتلاشى كنيم .

زودشويد دروازه رابازكنيد ! زود شويد ! ورنه خود ما بازخواهيم كرد .

پدرم مجبورشد دروازه رابازكند، ناگهان چند تن افراد كه اسلحه باخود داشتند داخل حويلي شدند .

من فوراً به اطاق داخل

درصفحه پنجم

مرحبا درحمت مياشتې

په تياروكې رااياريو
ګناهګاريوشرمساريو
موږ په بدو كې ډوب شوي
په ګناه كې الوده يو
ترغوږونو تزګكړي
عزازيل چې زموږ دښمن دى
نن زموږ په ولو سپوږدى
دګناه په لورموبيايي
دفنا په لورمو يون دى
نو!
مرحبا درحمت مياشتې
مرحبا درحمت مياشتې
ګوندې موږ ته كړې راخلاص!
دريڅې درحمتونو
ګوندې وترې په موږ نور !
دروازې دګناهونو
زموږ له زړونو كه شي لرې !
نوركيسې عداوتونه
ګوندې ونغاړې له موږنه !
دنفاق تول تغرونه
ګوندې ستاله بركته !
زموږ مخه شي قرآن ته
چې نازل شولو له عرشه !
ستاپه غيركې بختورې
مرحبادرحمت مياشتې
مرحبا درحمت مياشتې
كه موزيرې دخلاصون شو
دګناله عذابونو
كه سبب مودنجات شې
دالله له دوزخونو !

لنډۍ

دجنت حورې خوشحالېږي
شهيد سوغات دسره بخمل راوړې دينه
شهيده خانده خوشحالېږه
الله دركړې دي ترعرش لوړمكانونه
شهيده ګوره خپه نشې
ستاانتقام ته لوی واړه وتلي دينه
دشهيد سرې وينې بهيږي
رنګ يې دوينو بوی دعطرو وركوينه
غسل كفن يې ځكه نشته
په وينو سور ګريوان دخداى حضورته ځينه
دسيدالله دغه آرزو ده
مجاهدينو ! دوحدت وركړئ لاسونه

رالېږونكي طالب العلم سيدالله جان احمدي

طنز

محمد عارف «تنګيار»

بيكاري

بيكاري اومجبورى هم عجيب شيان دي ځكه دخپلو غمونو ، انديښنو اوديو سره سره څه خوبې اوګټې هم لرى اوهغه داچې پدى وخت كې داصلي اونكلي دوستانو اشنايانو اوملګرودمالومولو اوهغوى دتللو ښه موكه وى اوله دى سره بيا دژوند په تولوا ړخونو فكر كول اوهمدارنګه دځان تول مالومول هم سړى ته په اسانه تر لاسه كيږى .

زه هم چې له كله بيكاره شوى يم نوبيا داهرڅه راته صفا ، صفا مالوم شول

پنځم مخ كې

قصه ناگفته ...

برگشتم وخود را نزد فامیل رسانیدم ان وقت همه بیدار شده بودند افراد مسلح نیز به داخل خانه رسیدند .

برادر وخواهر کوچکم که برخلاف عادت همیشگی درنیمه شب بیدارشده ،وچهره های نااشنا وخشنی رامی دیدند ازانها ترسیده وگریه وفریاد شان بلند شد .

انها باچهره های زشت وحشی این طرف وان طرف خانه می گشتند ومی پرسیدند کجاست ؟ کجادفنش کرده اید ؟ بما راپوررسیده است ...»

یکی ازانها که بالاپوشی سیاه به تن وقامتی کوتاه داشت سرش رااهسته اهسته شورمیداد وی به طرف خواهر وبرادر کوچکم رویش راگردانیده گفت : « به شما یاد داده اند که گریه کنید وفریاد بزنید بااین کارهاخلاص نمی شوید خاموش شوید ! شما عناصر ضد انقلاب هستید »

به تعداد انهاافزوده می شد یکی داخل می شد ودیگری خارج ، هرکدام جداگانه بافریاد می پرسیدند: «کجاست ؟ بگوئید کجادفنش کرده اید ؟ »

هربارکه می پرسیدیم «مقصود شما چیست ؟» خشونت بیشتری درچهره ولهن شان نمودار شده ومی گفتند :« خود را ناخبر نشان ندهید ، درحالیکه همه چیز رامی دانید ... راپورموثق است . »

ماهمه حیران بوده یم نمیدانستیم مرتکب چه جرمی شده ایم محال بود انها راقناعت بدهیم که نه تفنگ داریم ونه کارتوس .

یك نیم ساعت به همین طور گذشت ، وضع خانه ماشکل دیگری بخود گرفت ، بستره هارا تیت کردند ، بکس ها راباز کرده ولباسهارا ازداخل انها کشیدند کتابهارا ورق ورق نمودند ولی چیزی نیافتند .

یکی ازانها که مصروف تلاشی صحن حویلی بود فریاد زد : یافتم یافتم زود شوید چند نفر بیایید یك بیل هم باخود بیاورید دیگری فریاد براورد کجاست ؟ بیل کجاست ؟ بیل را برایش بردم شروع کرد همان نقطه راخوب بیل زد خاك ها رادورکرده یك توته اهن زنگ زده بدستش افتاد خجالت کشید ازینکه به مقصود دست نیافته است .

دوباره به جستجوی منزل پرداختند ، خیلی پالیدند وهمه جاراچندین بارپالیدند ولی چیزی نیافتند.

شب به انتهای خود نزدیك می شد ورنگ سیاه خود را میباخت مامنتظر پایان این تراژیدی مضحك بودیم نمیدانستیم بعد ازین باماچه خواهند کرد .

پدرم که مقابل ما ایستاده بود میگفت : « صبر کنید وارخطا نشوید ، ماگناهی نداریم ، باجرئت باشید ، خداوند باماست » پدرم سخنان خود رابه پایان نرسانیده بود که ازمیان انها یك فرد سیاه چهره پدرم رامخاطب قرارداده گفت : توامشب باید باما بروی فردا دوباره برمیگردی ازشما چندسوال می کنیم »

باشنیدن این سخن خون دررگهایم جوش زد دانستم که اینها چه میخواهند این کلمات دران روزها زبانزد عام وخاص بود همه میدانستند که مراد ازین گونه سخن ها چیست .

به ان مرد گفتم : دروغ میگویی شما همه دروغگو هستید هرکسی رابه این بهانه ها برده اید گم شده است ، برنگشته است ، قبل ازینکه ازوی جوابی بشنوم دونفر دیگر داخل اطاق شدند یکی ازانها که سگرت به دهن وکلاهی شاپو به سرداشت بمن گفت : خودت وپدرت هردوباید امشب باما بروید ! ازشما چند سوال می کنیم ،فردا برگردید !... زود شوید برویم ، زود شوید وقت نداریم »

باشنیدن سخنان ان مرد یکباردیگرگریه وفریاد خواهر وبرادر کوچکم بلند شد انها می گریستند و فریاد می زدند ازیك طرف اصرارانها که « زود شوید ! زود شوید ! وقت نداریم ! » و ازطرف دیگر صدای شیون برادر وخواهر کوچکم سخت ازارمی داد ، ماروان شدیم صدای گریه زیاد می شد مردی که بامن یکجا بود باخود می گفت : «گریه کنید ، گریه ! عناصر ضد انقلاب ، این گریه ها فایده ندارد »

سخنانش همچومرمی ای بود که برقلبم اصابت می کرد ، ازحویلی خارج شدیم گفتند : «سوارموتر شوید ، من وپدرم راسواریك جیب روسی کردند ، به دریورگفته شد : حرکت کن ! چشمهای مارابستند ، نمیدانستم به کجا میرویم جهت مجهول وسرنوشت نامعلومی درانتظار مابود ...»

بیکاري ...

اوداسی می هوش سرته راغی لکه چی ددوهم ځل لپاره دنیا ته راغلی وم .

دعمرونو دمه می جوړه شوه اوپه ډیره ناسته پاسته می زړه هم بنه موړشو .

پرون چی دځه کارلټولونه وروسته ستړی کورته راستون شوم نوپالښت ته می ډډه واچوله اوځان می دفکرونو په سیند کی لاهوکړ ، نه پوهیږم چیرته به رسیدلی وم چی یودوست راپه یادشوځه وړوکی دوست نه ؤ بلکه رئیس ؤ اوهغه دچاخبره بی تخته پاچا ، اوزموږخپلوی هم څه ایسته را ایسته خپلوی نه وه بلکه ډیره نږدی اوکورنی خپلوی وه نه پوهیږم له کومه اوپه کوم رگ مو داخپلوۍ تړل شوی وه ، خوچی څنگه راپه یاد شوه زه هم بی له کومه ځنډه وروخوځیدم چی کورته یی ورنږدی شوم کتل می چی په دروازه کی ولاړ انضباطان یی هم هغه پخوانی نابلده اوغوسناك خلك نه وو چی له دی مخکی به یی هلته له تش ودریدلونه هم منع کولم بلکه نن زما په لیدو هغوی هم خوښ وو اوله لری یی خولی جونگی نیولی.کیدای شی په زړه کی به یی تیرولـه که زه یی رئیس صیب ته صفت وکړم اونورهم ورته گران شی.خوما دانضباطانو ددغه حالت په لیدلوتهولی اندیښنی اوشکونه له زړه وویستل اوپوره داډه شوم چی په ربښتیا ددوست کره روان یم .

په خندا کی یی ستړی مه شی راکړه ، خوما دپخوانی ویری په اساس بیا هم دتلاشی اخستلو ورته وویل هغوی خوآران ډیر خجله شول دستی یی دروازه پرانستله اوددننه تلو بلنه یی راکړه دخپل دوست کورڅ څله به می پښه نیوله ، همداسی نیغ اوزږوروړنوتم اوچی دابلـه دروازه می وټکوله نوهغه مخکی دټیلفون پواسطه خبرشوی ؤ دروازه یی پرانستله اوبیا یی چی په ماسترگی ولگیدی خوښیږی په شونډو چورلکونه ووهل یودم یی په غیږکی ونیولم اودومره یی ټینگ کړم چی تابه ویل سل کاله بادموسره وکتل ، له متی یی ونیولم اوهلته بر یی په خپل څنگ کی په کوچ کښینولم .

دورو غتو پوښتنه یی وکړه اوورسره یی زما دبیکاری افسوس وکړېدی چی ته ولی پخوانه راتلی که نه ستا دمقرری مکتوبونه اوامرونه می پخوا لیکلی اومربوطو شعبو ته می لیږلی هم دی ورته ومی ویل چی په ربښتیا پرېم لانوری خبری مونه وی شروع کړی چی دټیلفون غوږی پورته کړ اوچاته یی وویل چی فوراً یولوکس اوبنکلی کور، سره له ټولو وسایلو ډیر ژربرابر کړی نه پوهیږم چی له مقابل لورڅوك اوڅه وویل خوصیب په اخرکی ورته وویل : هوا ډیر ژر له نږدی دوستانونه دی دخدای په امان هغه

په شپږم مخ

غریبي اوروژه ماتي ...

هیڅ پروا مکوی دوی لا داخبری کولی چی ناصر په دروازه کی خپه نیولی شو درانوتو توان یی په ځان کی ونه لید او بیرته دجومات پلوستون شو دتراویحو نه پس چی راغی نوواړه بچی یی اوده شوی ؤ د نورکله په شان یی نن هم ټوله ورځ د ترکاری دخرڅلاوپه ځای کی دالوگانو او پیازو درنی درنی بوری بنکته او پورته کړی وی.کټ ته په ورسیدو بیا له ځانه خبر نه ؤ: دچرپانگ سره یی بیا د ښار پلو مخه کړه دکار ځای ته یی ځان ورساوه درانه درانه پیټی یی په شا یوړه دچانه دوه اوچانه دری روپۍ اخیستی .

په (۱۲) بجو چی یی خپلی پیسی وشمیرلی نو (۵۰) کلداری یی گټلی وی ډیر زیات خوشحاله شو په زړه کی یی ویل نن به که خیروی خامخا د شفیع اورفیع لپاره مربع وړم او ورسره لږه غوښه:

دماسپښین دلمانځه لپاره یوه نږدی جومات ته ورغی دجومات فرش ښایسته ښه یخ ؤ خوند یی ورکړ او دلمانځه نه پس یی ډډه ووهله : لږ ساعت به ویده شم وخت خو لاهسی هم ډیر دی په جماعت کی خال خال خلك پاتی ؤ نور ټول وتلی ؤ فقط دجماعت په یوه گوټکی یو زیړ پیړ خیرن پیرن زلمی پروت ؤ دناصر چی پری سترگی ولگیدی نوتوبه یی وویسته،خدایه شکر دی چی په وجود خو دی روغ پیدا کړی یم که داسی ناروغه او مریض وی نو بیا به می څه کول څه شیبه گرېدی سترگی پټی شوی وی چی یوناڅاپه راپاڅیده په جومات کی هیڅوك هم نه ؤ حتی هغه مریض هم وتلی ؤ: خو چی دسر لاندی یی وکتل خپل واسکټ یی ونه لید کوم چی ده دسر لاندی ایښی ؤ سرپی وخوزاوه،خدای می دی غاړه نه ښنده وی لکه چی مریض نه ؤ داڅوك نیشئ ؤ خدا یږو غلاښ رانه وکړه فکر یی نور هم خراب شو ځان ته یی هم ډیری بدی ردی وویلی په جومات کی ولی ویده کیدلم خو نیغ به کورته تللی کنه ، دکمیس په جیبونو کی یی چی گوتی ووهلی نود کچه گړی کرایه یی پکی پیداکړه دسرك په غاړه دمربعو اواچارونو بی شمیره گاډی ولاړ ؤ ځان یی ترینه راتیر کړ او نیغ یوه کرایی موټر ته وخوت موټر هم دومره ډك ؤ چی دناستی ځای پکی نه ؤ یوی خواته ودرید په لاره موټر ښه ناوخته کړه څوك به راختل او څوك به کوزیدل او چی کله بوډ ته رارسیدو نودماښام اذان یی پری وکړ موټروان موټر ودراوه چا پیکوری راخیستی او چا کبابونه : خلکو ویل چی ملا څه شی وی او روژه پری ماته کړو بیابه گورو خو ناصر غریب سره دهیڅ شی داخیستو پیسی هم نه وی دټول موټر پام دده پلو شو،ولې وروره روژه ماتی نه اخلی روژه نه ماتوی،مجبورشوخلکو ته یی حال وویلو سترگو ته یی اوښکی راغلی خلك هم ددی بیچاره په ژوند خفه شول :داهم زندگی ده داهم مهاجردی څوك ... څنگه اوڅوك څنگه ... چاورته روژه ماتی ورکړ روژه یی پری ماته کړه دکور ورسره ډیر غم ؤ چی وړی به ناست وی یو سخی سړی ورته په جیب کی یو پنځوسی هم کیښود بیا یی زړه خوشحاله شو ده دنه اخیستو هم ورته څو څو واری وویل خوهغه ونه منله دابه ضرور اخلی : ځای ته راورسید دکچه گړی په دوکانونو کی یی بیا سودا سودا وکړه ، دالوگانو څه دانی خویی دکاردځای نه دځان سره راخیستی وی خو څه ښه یی پری نه کیدهٔ : بس په زړه یی دایوه خبره تیریده وړی به ناست وی خوخبرنه ؤ چی نن یی په کورکی دومره ډیر شیان پراته دی چی دخوراك یی هم څوك نشته نن شفیع اورفیع په اوچتو سترگو کاسی دکوی اودچوتری سرته یی ویاسی : اووړو ته وایی څنگه تاسی خوبه زموږپوری خنندل اوس یی وگوری : ناصر چی دکورخواته رارسیده نوگاونډیانو یی دلاسه ونیوه اودمیلمنو اوناستو خلکو خواته یی په وچ زوریوتلو ده ځان ډیر هغه دغه کړ خوخلك ورته ټول راپاڅیدل دی نن خپل قدر ته حیران شوچی اخرداولی؟ دکورمنځ نه یی څوچیغی هم واوریدی وارخطا اوساډوبی غوندی شو په زړه یی شل خبری تیریدی ارامه ارامی وه خلك چپ چاپ ناست ؤ چادخولی نه اه نه ویسته،دی نو نه پوهیده چی له کوم یوه نه پوښتنه وکړی چی څه خبره ده خلکو غږوکړ چی ناصر خان به روژه نه وی ماته کړی روژماتی ورته راوړی !

نه نه ماروژه ماته کړی ده ، نه یی دراپاڅیدو جرات کولی شو اونه دپوښتنی دهرچاسترگی دهمده پلووی وارو پاریی ځنی خطا کړی ؤ : هلته په چوتره چی دشفیع اورفیع خبره په کوچنیانو بده ولگیده نوځواب یی ورکړ داخو څه ستاسی نه دی داخویواویل دروړی دی همدا یوه ورځ باچاهی موده ته یی بیا وخوره ځکه چی ستاسی مشر وروری دجهاد نه مړراوړی دی اوخلکو ستاسی کره هرشی دروړکنه نو نن به مو بیا الوگان راویستی یوه بل پری غږکړ نن خوالوگان هم نه ؤ ځکه چی پلاریی لاتراوسه پوری نه دی راغلی

په تیرپسې :

دریمه برخه

عبدالوکیل

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا -کام - خاد - واد ، تشکیلات ، فعالیتونه اوجنایات

پدغه مقاله کې به ولولی چې :

* روسانو خپلی جاسوسی شبکی څنګه فعالی کړې .
* په افغانستان کې دکی ، جی ، بی فعالیتونه څه بنه لری .
* دظاهرشاه دواکمنی په وخت کې کی ، جی ، بی څه ډول فعالیت کاوه .
* په روسیه کې دافغانی محصلینو په رابطه کی ، جی ، بی څه ورفعالیتونه کوی .
* په پوځ کې کمونست ګوند ته دجذب اوجلب طریقه څه وړوه .
* په قبایلی سیمو- پاکستان اوایران کې دخاد تخریبی فعالیتونه څه ډول ؤ او ...

دکارمل ډلې وکولی شول چې دپرچم په نوم جریده نشر کړي خودڅوګنو دچاپ اونشر کیدو څخه وروسته یې نشرات بند شول .

دغو دوومزدوروډلو هرې یوې ځان دخلك دموکراتیك جریان باله خوکله به یې چې په بعضو دولتی جریدو کې نشرات کول نودتره کی اوکارمل ډلو توپیر په دې کیده چې دتره کی ډله به یې (جریان دموکراتیك خلق « خلق ») اودکارمل ډله به یې د«خلق دموکراتیك جریان » (په اخیر یااول کې به دافغنستان نوم هم ورزیات شوی ؤ) په نومونو نشر کول .

دتره کی اوکارمل دواړو ډلو ادعاکوله چې ددوی مرام د«خلق» جریدې په اوله اودوهمه ګڼه کې خپورشوی دی اوپه هغه کې یې ستراتیژیك اوغایی هدفونه څرګندکړي دي .

دنوموړو ډلو اوهم نوروخلکو اوګوندونو ترمنځ دتره کی ډله دخلق یا خلقیانو اودکارمل ډله دپرچم یا پرچمیانو په نومونو مشهورې شوې خو په واقعیت کې خلق اوپرچم دذکرشویو جریدو نومونه دي اما دسیاسی اړخ په لحاظ به دتره کی ډلې دکارمل ډلې ته کارملیان یا ببرکیان ویل اودکارمل ډلی به دتره کی ډلی ته تره کیان ویل (د۱۳۴۳ هـ ش کال څخه وروسته زیات شمیر ګوندونه رامنځ ته شول چې دهغې جملې څخه دماؤستانو ډله هم وه چې دچیني استخباراتو په واسطه سره جوړه او دشعله جاوید په نوم یې جریده خپره کړله اووروسته داډله دشعله جاوید یا شعله یانو په نوم مشهوره شوه) .

دخلق اوپرچم ډلې دیو اوبل څخه جداشوې خوهیڅ یوې ډلې په منطقی اوقناعت ښبونکی ډول سره دانشعاب عوامل نه شول څرګندولای او دواړو ډلو په علنی اوڅرګندډول سره دایو مترقی اووطن پالونکی عمل باله چې دروسانو لارښوونه (په واقعیت کې دستور) عملی کوي اوهرې ډلې دبلې په نسبت پردې باندې ځان مترقی اوغوره ګاڼه چې دروسانو سره نږدې اړیکې لري اوددواړو ډلو به همیش ددې پرسرجنجال ؤ چې یوې به ویل چې روسانو ته موږ نږدې اوموږ یې په رسمیت پیژندلي یو اما بلې به ویل موږ ته تریل هرچازیات اهمیت راکوي اوپه رسمیت موپیژني.په واقعیت کې په دې اړوند دواړو ډلو ښتیا ویل اودواړو ډلو نږدې اړیکې ورسره درلودې اما « کی ، جی ، بی » دیوه اوبل اړیکو څخه بی خبره ساتلی ؤ .

روسانو به دتره کی ډلې ته ویل چې موږ پرتاسو ترټولو زیات اعتماد لرو اوډیره مینه مودرسره ده ځکه چې دتاسو په ګوند کې غریبان اواطرافیان ډیر دي او موږ خوداوله تراخیره دداسې غریبانو ملاتړیو اما دکارمل ډلې ته به یې په دی قناعت ورکاوه چې موږ (روسان) ځکه دستاسو سره ډیره خواخوږي اومحبت لرو اوتریل هرچاډیر اهمیت درکووچې تاسو نسبت نورو ته باکلتوره ، هوښیار اواکثریت دهغه محیط (ښار) ځوانان په دغه ګوند کې سره راټول شوی یاست چې انقلاب به له همدغسې ځای څخه پیل کوی .

دې ته ورته پروسه ترهمدې نن پورې روانه ده اودهرې ډلې دمهمو اشخاصو سره پټې اوګوښې اړیکې ساتي اودخپلې خوښې سره سم یې په رقص راولي .

نوربیا

له مجاهدینو سره هرډول مرسته ...

یوچی هغه په شهادت رسیدلی دی ، پدی ځلورکسانو کې ، یو ظلم خان ، بل خایسته ګل ، ریدی ګل اوڅلورم نوم راڅخه هیردی له دی نه علاوه موږدقبایلو په څلور ایجنسیو کې ، لکه دمهمندو ایجنسی ، کرم ایجنسی ، خیبر ایجنسی اوشمالی وزیرستان ایجنسی کې ګڼ شمیر جلسی کړیدی اشتهارات موچاپ کړیدی اودمجاهدینو په تائید کې موغونډې جوړې کړیدی اوخلك مودیته تشویق کړیدی اوله مجاهدینو څخه مودفاع کړیده اودلته په پیښورکې موپرس کنفرانسونو کې داخبره اعلان کړیده .

پوښتنه :- محترم حاجی صاحب ، لطفاً که داراته ووایې چې تاسی دغه دقبایلو په سطحه اتحاد څه ډول جوړکړیدی اودامو په کوم احساس جوړکړی دی ؟

ځواب :- موږدقبایلو په سطحه دغه اتحاد په خپله اسلامی اوقرانی جذبه پیل کړیده ترڅوقبایل په خپلو کې سره متحد اومتفق کړو اوله بلی خوا موغوښتل چي دمهاجرینو اومجاهدینو ورونو دحق غږټولو قبایلو ته ورسوو اوقبایلی خلك ددوی مرستی ته تشویق اوترغیب کړو داچی په قبایلو کې دنجیب ګوډاګیانو په بارباردی هڅه کړیده ، ترڅو دمجاهدینو پرضد په قبایلو کې ضد اونفرت راولاړکړی خوهغوی هیڅ وخت پدی ناولی هدف کې ندی موافق شوی اونه موږدی موافقی ته پرېښودلی دی .

> مجاهدین نه یواځې داچې زموږ مسلمانه دي بلکه ددې ترڅنګ زموږ دایمان اوعقیدې وروڼه دي

پوښتنه :- ستاسی دتحریک نه علاوه په قبایلی سیمو کې نورتحریکونه وجودلری اوکه څنګه ؟

ځواب :- زموږتحریك په قبایلی سیمو کې ترټولو ړومبی تحریك دی اوله هرچایې وړاندی خپل فعالیتونو پیل کړیدی زموږدتحریك له پیل کیدو نه وړاندی په قبایلی سیمو کې هیڅ تحریك وجود نه درلود ، خوکله چې موږکارپیل کړنوځینو خلکو دخپلو شخصي اوذاتی منافعو په خاطر هم داړفعالیتونه په کارواچول ، چې بعضی دافغانستان دګوډاګی رژیم په لسون او ځینی نورودهندوانو په اشاره کارونه پیل کړل ، خوزه مطمین یم چی داړخلك به په خپلو ناولیو هدفونو کې دتل لپاره ناکام وی اونه به زموږدقبایلو سوچه اوپاك مسلمانان دوی ته ددوی دناولیو هدفونو دپیاده کولو اجازه ورکړی ، زموږخدمتونه فعالیتونه ټولو ته لکه دلمر څرګند دی موږدقوم اودقبایلو په خیر ښیګړه کارونه کړی اوکوویږ .

پوښتنه :- تاسی په دی اوس وخت کې چی اسلامی نړی دیوه ستربحران سره مخامخ ده دپاکستان اسلامی حکومت اوملت نه څه توقع لری ؟

ځواب : - دپاکستان حکومت اوهمداراز دپاکستان خلکو دافغانستان په جهاد کې ډیره لویه قربانی ورکړه ،مرحوم شهید ضیاالحق چې له ابتدا نه نیولی ترشهادت پوری په پوره میړانه دمجاهدینو سره څنګ په څنګ ولاړ اوددوی له حقوقو څخه یې په کلکه ملاتړکاوه ، خوکله چی دبینظیری دواکمنی دوره پیل شوه نودضیا الحق هغه اسلامی پالیسی کې یې ترډیره حده کمزورتیاراوستله اومجاهدین هم ترډیره حده دبی نظیری دحکومت دپالیسی څخه مایوس شوی وو ، خواوس چی دمسلم لیګ حکومت جوړشوی نوموږدموجوده حکومت دافغان پالیسی څخه مطمین یو اوهمداراز دوی هم دمجاهدینو دقضیی دحل لپاره له وړاندی زیات زیارجارباسی اوکه موږدوی سست ولیدل ، نوبیا یې موږسستیاته نه پرېږدو .

پوښتنه :- دافغانستان مجاهد ملت چې اوس دبری په درشل کې دی تاسی مجاهدینو اومهاجرینوته دزړبریالیتوب لپاره څه پیغام لری ؟

ځواب :- دافغانستان مجاهدینو اومهاجرینو ته زما سوال دادی چی دوی په خپلو کې دصحیح اوواقعی یووالی اواتفاق لاره خپله کړی له ګوند بازی شخصیت پرستی څخه ډډه وکړی اوپردی نږدی دښمنان ددوی دیووالی په لارو کی خنډونه جوړکړی اودوی په خپلو کې سره وجنګوی موږیدی عقیده یو چی مجاهدینو دکامیابی راز ددوی په یووالی کې پټ دی ، ترڅوپوری چی دوی متحد وی دښمن هیڅکله ددوی داسلامی انقلاب دبری مخه نشی نیولی اوډیر زر به افغانستان کې اسلامی حکومت جوړولو کې بریالی شی اوموږداسی ورځی ته سترګی په لاره یو .

په اخرکی موږدمحترم حاجی ممتازخان صاحب مننه کوو چی دخپلو ډیرومصروفیتونو سره سره یې موږته ددی مرکې موقع راکړه چی دده اسلامی جذبه خپلو افغانی ورونو ته ورسوو.

ممتازخان :- زه دتاسی ډیر مشکوریم چې دخپلو خیالاتو اوبیا دجهاد په باب خپل اودټولو قبایلو نظر څرګند کړم ، اوزه داوایم چې داړومبی ځل دی چی ماسره دمجاهدینو له خوا داړمرکه کیږی هسی خوموږپیښورکې ډیر پرس کنفرانسونه کړی دی ، خوزه وایم چی دمجاهدینو ورونو سره غږیږم.

قیام هرات صفحه خونین اما پرافتخار جهاد ملت افغان...

ازاستعمارروس بهاپرداخته است درین شمار بهترین فرزندان ،خالص ترین مسلمانان ، بادردترین وبا درکترین انسانها ی کشور وبالاخره معصوم ترین اطفال وطن ماشامل اند اینها پدر،مادر برادر ، خواهر ، فرزند ودختر مسلمان وطن ما ومرم ما اند ارتباط خونی ما باهر کدام این شهداسند عهد وپیمان قلبی ما به راه انها یعنی به جهاد ملت ما میباشد که نباید به خون انها به راه پاك انها مسامحه صورت گیرد .

ملت مجاهد افغان که بهای سنگین به ازادی خود پرداخته است ارزو ندارد به جهاد این نهال ازادی که باخون خویش انرا سیراب نموده است سازشکاری صورت گیرد .

مردم افغانستان حاضرند بخاطر ایمان واسلام ووطن خود همچون قیام هرات هزاران فرزند وبرادر وپدرخود را به انقلاب اسلامی اهدا کنند اما ارزو ندارند خون ریخته شده انها وسرنوشت مردم مسلمان وکشور جنایت صورت گیرد ملت ارزومند است تارهبران مردم مسلمان افغانستان یکبار دیگر بخاطر احترام به خون ریخته شده هزاران هزار انسان وطن ما وبخاطر پنج ملیون افغان اواره ومهاجر با ژرف اندیشی بیشتر فکرنموده مردم راازین حالت رکود ، مغهوم وبی سرنوشتی نجات دهند .

روسي د يکتا تورانو ...

« اقتصادی مهاجرین یوه خبره ده خوله لوړی راتښتیدلی خلك بالکل بیله مسئله ده . »

هوګو وویل چی که څه هم په ناروی کی دروسانو لپاره اکمالات پوره اوپه وخت ندی خوبیا هم حالت دروس تردیرو ښارونو ښه دی .

مسکو دخپلو خلکو لدی ټولو لوږو اودربدریو سره سره په افغانستان کی دیوه اسلامی حکومت دحاکمیت له ویری پداسی حال کی چی خپله دلوږی مری دنجیب رژیم ته دمیاشتی ۳۰۰ میلیونه ډالره ورکوی ، معلومیږی چی دروس ړنګ شوی سیستم دخپلی نوری نابودۍ اورسوایۍ لپاره غواړی چی نور هم له افغانانو سره وجنګیږی .

ولی دمسکو مشرانو هیره کړه چی خلك نوردوی ته وروغاړی پیغوررونه اوشرمونه نشی زغملای ، اوځکه خوهرروسی جمهوریت غواړی چی نور دکریملین سلطه باید ختمه شی .

غربیان غواړی په ټول روس کی دخلکو هغه غرور چی ځان ته یی دنړۍ یوبی مثاله ځواك وایه له منځه یوسی اوپه روسانو کی دحقارت څپه خپره کړی .

دروس خلك له شرم اوتأسف سره هرورځ په خپل تلویزیون کی دهغو مرستو بکسونه ګوری چی له غرب څخه دوی ته رالیږل کیږی .

مشهوره غربی ورځپانه هیرالدتربیون د۱۹۹۰ کال دډسمبر په ۱۲ نیټه په ډاګه لیکی :

«دهغسی یوه هیواد لپاره چی یو وخت یی ټولی اروپا ته خوراکی مواد لیږل له بهرنه وررواني مرستی حیرانونکی او شرمونکی دی . »

په مسکو کی داوچکوف دریل ګاډی په تم ځای کی دیوه ګدام مسئول میخایل ګلدیشیف روس ته دغرب لخوا دروانو مرستو دروانی اوروحی اثر په هکله دډسمبر په میاشت کی دهیرالد تربیون دورځپانی خبریال ته وویل :

« بهرنی مرستی موږ له خجالت سره مخامخ کوی ، دادروس لپاره شرم دی ، که ته ماته یو mac راکړی زه په هغه وخورم وروسته بل درحخه غواړم ، دازما حالت نشی ښه کولای که چیری داهیواد (شوروی) هیڅ ونلری اوموږ له لوږی اوتندی مړه کیږو زه کولای شم احساس ولرم اوپوه شم ، ولی دامرستی اوکمکونه به موږ په روانی لحاظ وابسته اوتړلی وګرزوی »

روس ته دخوراکی موادو مرستی دغرب لخوا یو په بل پسی روانی دی دامریکا جمهور رئیس بش دډسمبر په ۱۲ نیټه روس ته دیو بلیون ډالره مرستی اعلان وکړ ، داروپایی هیوادو په ګډون ۲۱نورو هیوادونو روس ته دمرستی اعلان کړی .

سعودی عربستان ۴۰۰۰ ملیونه ډالرو اوکویټ ۵۰۰ ملیونه ډالرمرسته روس ته ورکوی ، لدی سربیره دجرمنی حکومت په نظر کې لری چی له هغو ګدامونو څخه چې دیوه احتمالی ساړه جنګ دخطر لپاره د(۴۰) کالو مودی لپاره جوړشوی وو (۲۱۴۵۰۰) ټنه غوښې،شیدی اودرمل روس ته ولیږی ، دسویس پوځونو په لاریو کې خوراکی مواد لننګراد ته رسوی ، سره صلیب اوبیلو بیلو کلیساوو روس ته مرستی رسولی دي ، داروپا ټولنی دیوه بلیون ډالرو خوراکی موادو او۱.۴ بلیون ډالره تخنیکی مرستی پریکړه کړی ده .

> دروس دابدحال رښتیا هم دهغسي یوه ابر قدرت لپاره چې پرون یې په ټوله نړۍ کې چورت نه واهه اونن یې دګدایۍ کچکول ترغاړه کړی ، دشرم اوننګ وړدي اودابیله شکه دهغه افغاني مقاومت اوجهاد زوردی چې دیوي لسیزي په موده کې یې روسي پوځ ، اقتصاد اودکمونیزم ټول سیستم په ملا مات کړ

هند هم وعده ورکړی چې روس ته یو ملیون ټنه غنم ورکړی دروس دابدحال رښتیا هم دهغسی یوه ابر قدرت لپاره چې پرون یې په ټوله نړۍ کې چورت نه واهه اونن یې دګدایۍ کچکول ترغاړه کړی ، دشرم اوننګ وړدی اودابیله شکه دهغه افغانی مقاومت اوجهاد زوردی چې دیوی لسیزی په موده کې یې روس پوځ اقتصاد اودکمونیزم ټول سیستم په ملامات کړ.

له افغانستان څخه دروس عسکرو له په شاکیدو وروسته روسانو په شلمه پیړۍ کې دلومړی ځل لپاره د یوی سختی ماتی پیغوررومانه اولدې وروسته په روسانو اوټول سیستم کې بی اعتمادی اوپه ځان دنه اتکا حس راوپارید، روانه لوړه تردیره هلته دخوراکی موادو دکمښت په وجه نه بلکه دمورال اوروحیاتو دلویدلو اودیوی سراسری ګډوډۍ په وجه رامنځ ته شوی چې له افغانستان څخه په شاشوی اومات شوی روسی پوځیان یې مهم علت دی هغوی دجګړی دواقعیتونوپه ورلو سره په روسی ټولنه کې دکریملن دبدبه راټیټه اودسره میدان دحاکمانو په دروغو یې دخلکو باور پای ته ورساوه اوپه محکومو ملیتونو کې یې دازادۍ حس راژوندی کړ، چې دې کاربالاخره دټول روسی مسلط سیستم دقدرت اواستحکام ستنی ولړزولې .

د K.G.B یوه جنرال الکساندرکریبانوف دډسمبر په ۱۳نیټه یوه مطبوعاتی کنفرانس ته وویل چې له غرب څخه رارسیدلی مرستی په مستحقو کورنیو روغتونونو اویتیم خانو ویشل کیږی ولی تراوسه ۱.۶ ملیونه ټنه رارسیدلی شیان او ۱۱۰۰۰ ټنه خوراکی مواد په بندرونو کې سرغوچ پراته دي اوچاله لاریو هم ندی کوز کړي پراودا ورځپانه په یوه خبرکې لیکی چې دیوی احصائیې له مخی په مسکو کې ۲۰ زره کانټینراو ۳۰۰ واګونونه دخوراکی موادو درملونو اومیوی ډك دي ولی هفتی هفتی کیږی چې کوز شوی ندی اونه توزیع کیږی دروسی سیستم دګډوډۍ اودخلکو دوارخطایی په هکله هغه غربی ماهرین چې په روس کې دمرستو دویشلو نظارت کوی وایی چې دسیستم دخرابوالی په وجه به ډیر غربی کمکونه په ګدامونو کې خراب شی .

دروسی اقتصاد اوسیستم دګډوډۍ مهم علت هم په افغانستان له یرغل وروسته دروسی حاکمانو ترمنځ دمسلسلو ماتو په وجه رامنځ ته شوی اختلافونه وو.

دمسکو دښاردښاروال مرستیال سرګی ستنکیووچ په اداره کې رامنځ ته شوو اختلافونو ته په اشاری سره وایی :

« دخوراکی موادو مشکل دکمونست ګوند دمحافظه کارو غړیو دمخالفت په وجه دی چې له ازادو مارکیټونو سره مخالفت لری . »

په هرحال داچې نن روسان په روس کې دروانی بدی ورځی اودروس دټول هیبت دترپښو لاندی کیدو لپاره څه دلیلونه راټولوی اوراوړی دمسئلی اومشکل دوهمه درجه لاملونه کیدای شی ولی په سیستم اداره اونظم کې ګډوډۍ له کارونو څخه دخلکو لاس اخیستل اودروس اقتصاد دداسی په ملا ماتیدو اصلی اوبنیادی علت اووجه دافغانستان په نږدی لس کلنه جګړه کې دروسانو بی شمیره خرڅونه زیانونه،ژوبلی اوبالاخره رسوا ماته اوپه شا کیدل وو.

بیکاري ...

دټیلفون غوږی ایښوده اوما په دالږوخت کی دیرڅه په زړه کی تیرکړل ، زړه می خلاص شو اوټول تشویشونه اواندیښنی می همدلته دصیب کره وسوځولی په زړه کی می تیرشول چی اوس به نو له ...سره ګورم ، داسی څه به پری وکړم چی تراوسه یی لیدلی نه وی ، ما چی دنورو رقیبانو اودښمنانو هم په زړه کی تیروله چی پدی کی صیب راته وویل : څه نورتکلیف اومشکل ؟ ورته می وویل : نه ! نه ! اوس خودخدای (ج) فضل دی څه نشته ، دیرڅه می په زړه کی ؤ خودومره زریادول یی راته بی ځایه ښکاریدل چی په دی کی صیب په خپل بابرکته ، ارت اوسخی جیب لاس تنویست اوچی بیرته یی راوکیښ له شنو زرګونو ډك ؤ ،ځان می ناګاره واچاوه خودسترګو له کونجو می ورته کتل چی لاس راغی اوزما په جیب ننوت زړه می ورسره وټخنید اوچی دنه اونومی ورته وویل ، وی خندل : څه نه دی هسی اوس خپل کارپری جوړکړه ، بیابه پرماچی دبیکاریو له امله درندی مفلسی تیری شوی وی ځان می همداسی سست واچاوه اوپه زړه کی می تیره کړه چی خپل دی نوبیا څه خوارخونه دی ، چی موږته یی رانه کړی څه پردوته خوبه یی نه ورکوی .

خوددغه شنه بنډل اندازی ته می سودا شوه اوزړه می غوښتل چی یو ځل می شمیرلی وای خوهیڅ نه کیدل ، زیات یقین می داو چی له څلوېښت زرو ډیری دی پدی کی چای راغی اوزموږمخ ته کیښودل شو ، په سویه مزدار اودهرڅه لرونکی چای ولی دپیسو داندازی سودا می خوله داسی بی خونده کړی وه چی تراخره یی مزه رانه کړه .

هغه خو کلك ؤ چی دغرمی ډوډۍ هم وخورم اوبیا لاړشم اولادونه نوی کورته بوزم خوما په دی بانه چی دکورکالی، کړی سره راټول کړو ځان تری خلاص کړاوهغه هم ددی لپاره چی ژربیرون ته ووزم اوپه یوه ګوښه کی داپیسی وشمیرم ځکه تراوسه می دومره روپۍ په جیب کی نه وی لویدلی .

ښه ګرمه مخه ښه می ورسره وکړه اوراووتم خوپه راوتلو کی خوښی رابانـدی غالبه شوه اودادروازه می دومره په دریغه ورپوری کړه چی نږدی یی زما غوږونه کانه کړی ؤ چی پدی کی دوړو مورورابانـدی غږ کړ: پورته چی ډوډۍ یخه شوه ، ټوله ورځ ته یی اوخوبونه دکورخاوند راغلی ؤ کرایه یی غوښتله اوبل خوددغی دروازی کړی غم وکړه چی په پوری کولو دسړی دغوږپردی څیروی هروخت چی وی ماته به شي .

هند دیوه نوي بحران په منګولو کې ...

چاروته توام ورکړ.

پدی وخت کی دعدم اعتماد دتحریك وړاندی کولو کوششونه هم وشول اوچندرشیکر مجبورشو چی خپله استعفی اعلان کړی .

که څه هم چندرشیکر جمهوررئیس ته دامشوره ورکړې وه چی پارلمان منحل او له سره دانتخاباتو اعلان وکړی هماغه ؤ چی داندراکانګرس اعلان وکړچی نوی دچندرشیکر دحکومت ملګرتیا نده پری ایښی بلکی یواځی یی دکانګرس دلیډر پرکوردپیری درولو په رابطه احتجاج کړی دی بالاخره جمهوررئیس وینکت رامن پارلمان منحل اودنویو انتخاباتو اعلان یی وکړ.

داچی په دغو انتخاباتو کی به غوڅ بری کومه ډله وګټلی شی له وخت څخه مخکی خبره ده خو کله چی دپارلمان دانحلال خبره توده شوه دراجیو کانګرس په خپله کامیابی دشکمن موقف له مخی وویل چی نوی دچندرشیکر حکومت له ملاتړ څخه لاس نه دی اخیستی بلکی دپارلمان غونډی یی ددی له پاره بایکاټ کړی چی دګوند دلیډر په کوردحکومت له خوا دهغه دڅارنی له پاره پیره لګول شوی وه .

دچندرشیکر اومخالفو ګوندو بری هم څه روښانه نه ښکاری پدی توګه په هندوستان کی دیوه داخلی سیاسی بحران هنګامه ورځ ترورځی توده یږی اوداخلاوبحران به دسك ازادی غوښتونکو اوکشمیری مبارزینو په ګټه تمامیږی .

اوس چی په کشمیر کی دانقلابیونومنظم خوځښتونه دکشمیر دازادی سرمنزل ته په نږدی کیدو دی دهندوستان سیاسی انتشار په منګولو کی دخپلو تیرو ګناهونو اورته ورنږدی کیږی دکشمیر دازادۍ غورځنګ دخپلو سرتیرواو شهیدانو دقربانیوله برکته دخپلی ازادی اواسلامی تشخص په لارکی په بری سره مخ په وړاندی روان دی .

اونور ددی وخت رارسیدلی چی دکشمیر محکوم اوایللی ولس دوینو له سمندر څخه په فاتحانه تیریدوسره دازادۍ په ساحل کی دخپلی بقا اوعظمت تاریخ پخپلو وینو وکاږي .

قیام هرات صفحه خونین اما پرافتخار جهاد ملت افغان

ازنمونه یکی ازینگونه ایثار گری های بیباکانه وشجیعانه قیام ۲٤ حوت سال ۱۳۵۷ مردم مسلمان ولایت هرات استکه هزاران اهالی متدین ومسلمانان صدیق وجان بکف هرات ازولسوالی هاومناطق دوروتزدیك تحت یك پلان تنظیم شده ازسوی مسلمانان معتقد بخاطر پاك نمودن شهرهرات ازلوث عناصر کمونست ولا مذهب دورهم امده باسلاح مطمین ایمان وعقیده وبا شمشیر بران وکفر ستیز « الله اکبر » برمراکز وپایگاهای رژیم کمونست تره کی ، امین هجوم قهرمانانه بردند .

مردم قهرمان ومسلمان هرات توانستند درنتیجه این قیام وعمل متحدانه برای مدت بیست وچارساعت کنترول ولایت هرات راازعناصر فاسد رژیم کمونست کابل خارج وبدست خویش گیرند.

عمال رژیم به هدایت مستقیم تره کی ، امین باتمام قواوقدرت ازهوا وزمین بصورت بسیار وحشیانه برشهر حمله برده بدون تفکیك همه اهالی رابه توپ وگلوله بسته بیش ازبیست وپنج هزارتن ازمسلمانان راکه دران مردم بیدفاع بشمول اطفال معصوم ، زنان وپیرمرد، ان نیز شامل اند بیرحمانه به شهادت رسانیدند .

باین ترتیب قیام قهرمانانه مردم مسلمان هرات دربرابر طاغوت ونوکران وفادار طاغوت باخون بیست وپنج هزارشهید پاك باحروف درشت درتاریخ جهاد مردم مانوشته شد .

امروز که یازده سال ازان واقعه می گذرد هنوز قلب مردم ما ازبازگفتن وبخاطر اوردن ان حادثه غم انگیز ملول می گردد اما قیام مردم مسلمان هرات یکی ازگرههائیست که مردم مسلمان مارابه جهاد وادامه صادقانه ان پیوند محکم میدهد قیام مردم مسلمان هرات درجهاد برحق ودرمبارزه خونین مردم ما یکی ازنمونه های نادریست که ملت باشهامت افغان توانست انرا درجهاد بزرگ علیه کمونیزم وتاریك اندیشی های ان دریك روز به ثبت رساند .

قیام هرات درسحرگاهان جهاد وقیام ومقاومت ملت افغان علیه ابر قدرت روس که چهره خود را درپشت نوکران وفادارش پنهان ساخته بود بوقوع پیوست این قیام به مردم ماشان داد راهی رادرپیش دارند که بسیار دشوار وخونین خواهد بود اما میتوان با اتحاد ویکدلی درین راه پرخم وپیچ استوارومطمینانه به پیش رفت ودرسوی دیگر خلقی هاوپرچمی ها این عمال کرملین که سخت درقدرت مغروربودند نشان داد که نمیتوانند کشورافغانها رابه بادارخود به معامله گری ناپاك بگذارند .

مردم افغانستان باپرداختن بهای بزرگ چون قیام هرات بیاری خداوند بزرگ راه پرخطری را باایمان راسخ ومتانت کامل پیمودند وازجان فشانی ازنثارحیات خود زن وفرزند بخاطر حراست ازعقیده وایمان واسلام ووطن خویش نه هراسیدند وازبرکت الطاف الهی همین فداکاری های مردم ماپود که ابر قدرت روس که به عزم سرکوبی کامل جهاد وقیام مردم ما واشغال کامل کشورمابه افغانستان لشکر کشیده بوده‌بزانو درامد .

بیش ازدوسال است که روسها بعد ازشکست نظامی ازمجاهدین قوای شکست خورده خود را ازافغانستان خارج نموده اند ولی بدبختانه حکومت دست نشانده انها هنوز هم برکابل حاکم بوده وجنگ وجهاد هنوزهم ادامه دارد این حقیقت مبرهن است که روسها شکست خوردند اما حکومت دست نشانده شان هنوزهم موجود میباشد . گرچه این حقیقت است که دلیل ادامه حکومت کابل نیرومندی ان حکومت نه بلکه ضعف حریف ان میباشد ، بیائید ببینیم این ضعف درکجا وچگونه است .

ضعف درصف جهاد ازسبب عدم اتحاد وعدم همکاری برادرانه وصادقانه قیادت جهادی است ملت مسلمان ما بادست خالی به جهاد اغازنموده بزرگترین پیروزیهای رانصیب گشت اما بدبختانه امروز باداشتن بهترین سلاحها هنوزهم به پیروزی نهایی دست نیافته است .

پیروزیهای ما دراتحاد ماست اتحاد صمیمانه وصادقانه درغیران دشمن میتواند با همکاری دشمنان ما را صدمه مهلك زند .

ملت ما یك ونیم ملیون شهید را بخاطر ازادی

درصفحه ٦

کشمیری مجاهدینو ۵۰ هندي پوځیان ووژل

سری نگر دکب ۲۵ مه :

دنیول شوی کشمیر څخه رسیدلی خبرونه وایی چی دهندی برغلگرو پوځیانو اودکشمیر دازادی غوښتونکو مجاهدینو ترمنځ په یوه نښته کی چی د(باره مولا) په سیمه کی واقع شوه څه دپاسه ۵۰ هندی عسکرووژل شول

خبروایی چی هندی پوځیانو دازادی غوښتونکو مجاهدینو دورځ په ورځ زیاتیدونکو حملو په وجه دلمړی ځل لپاره دهلی کاپترالوتکو څخه کاراخیست چی دهغی په وسیله یی یو شمیر ازادی غوښتونکی کشمیریان نیولی دی .

دکشمیریانو اوهندی پوځ پدی نښته کی ازادی غوښتونکو کشمیریانو دهندی پوځیانو اسلحه هم تری ترلاسه کړی.

دسالنگ پرپوستو دمجاهدینو بریالی عملیات

دمیدیا دخبررسولو اداری دمجاهدینو دیوی منبع په حواله خبرورکړی چی زمونږ سرتیرو مجاهدینو دحوت په ۱۷مه نیټه دسالنگ دلویی لاری په اوږدو کی دکیانی ملیشه و پرنظامی پوستو برید کړی اودمزدوررژیم سنگرونه‌اواستحکامات یی ویجاړکړی .

خبرزیاتوی ددغه عملیاتو په لړکی چی دهغی ورځی ترمازدیگره یی دوام درلود ، دکیانی ملیشه و څخه ۸ کسه مړه ، او ۱۰ کسه یی له خپلووسلو سره ونیول شول .

دعملیاتو په لړکی دمجاهدینو پر سنگرونو دمزدوررژیم ځمکنی اوهوایی بریدونو دوام درلود ولی مجاهدینو خپلو عملیاتو ته دوام ورکړ چی دعملیاتو په نتیجه کی ددښمن ۱۰ میله کلاشینکوف او پراندازه مهمات په غنیمت ونیول شول .

دهیئت تحریر ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورسټي ټاون پیښور

تیلفون : ... (٤١٧٤٦)

مجاهدینو په هرات کی دښمن ته کلك گوزارونه ورکړیدی

هرات میدیا :

دهرات له ولایت څخه میدیا ته په راغلو خبرونو کی ویل شوی چی اتلومجاهدینو دهرات او تورغونډۍ دسرك په اوږدو کی دحوت په ۱۷ مه نیټه دکمونست رژیم پوځی کتارته کمین نیولی ؤ چی دراکټونو په بریدونو سره یی ۵ عرادی موټرله منځه وړی اوهم درژیم ۱۵ تنه عسکر اویوه ډاکتران دیو شمیر مهماتو سره دمجاهدینو له خوانیول شویدی .

دیوه بل خبرله مخی چی میدیا ته رسیدلی ښرگندوی چی مجاهدینو دحوت په ۲۰ نیټه دانجیل اوشین ډنډ په ولسوالیو کی درژیم پرپوستو بریدونه وکړل چی په نتیجه کی ددښمن ٤ پوستی ویجاړی او۱٤ تنه ملیشیان په هلاکت ورسیدل او هم ۱٦ تنه یی ټپیان شول .

دخوست په کلابند شوي ښار باندي دمجاهدینو گډ عملیات

په ښارکي دکابل رژیم ډیر مهم تأسیسات له منځه وړل شویدي

عملیات دوام لري

دخوست په کلابند شوی ښار باندی دافغان جهادی قوتونو گډ عملیات چی دحوت په (۲۳) نیټه په هغه ښارکی دکابل رژیم په وروستیو مورچو باندی پیل شول پردښمن باندی په بریالیو غوځو او ځپونکو گوزارونو سره روان دی . په هغه تازه رپوټ کی چی دقوماندانانو سرتاسری شورا د«جهادهنداری »اداری ته یی لیږلی راغلی چی زړورو مجاهدینو دهغو عملیاتو په ترڅ کی چی د حوت په (۲۵) نیټه دخوست دښار په ختیځه برخه کی ترسره کړل دملزایی ، ټپوگان ،میرخانکی په گډون درژیم لس پوستی فتحه شوی دی .

په خبر کی راغلی دپوستو دفتحی په ترڅ کی ددښمن قواو ته درانه ځانی تلفات وررسیدلی او هم ددښمن یوه اندازه وسله دمجاهدینو لاس ته ورغلی ده .

همدارنگه په رپوټ کی راغلی چی زړورومجاهدینو دحوت په ۲۵ نیټه دسکر.۲۰ له توغندیو څخه په استفادی سره دخوست په ښارکی دگورداگی رژیم دفرقی قوماندانی اودخادودانی ویجاړی کړی دی .

په خبرکی راغلی چی د دغو ډزو په وجه په ښارکی دتیلو عمومی ذخیری اورواخیسته چی لمبی یی له لیری ښکاریدی .

دغه راز دقوماندانانو دشورا په مخکنی رپوټ کی ویل شوی وو چی دخوست په ښارباندی داتلو مجاهدینو دحملی په نتیجه کی چی دحوت په ۲۳ نیټه یی درژیم دمورچو پرخلاف وکړه دخوست راډیو استیشن اودهغه ښار دهوایی ډگر درادار سیستم له منځه وړل شویدی .خبرزیاتوی چی په خوست باندی دمجاهدینو دحملی په اثر په ښار کی درژیم دمحاصره شوی قواویو زیات شمیر صاحب منصبانه اوعسکر مړه اویا ټپیان شوی اوزیات مالی تاوانونه وراوښتی دی .

ددی حملی په وجه چی همدااوس هم دوام لری درژیم د قواو مورال ډیر ضعیف شوی او قهرمان مجاهدین داسلامی اوافغانی وروروولی اواتحاد پربنا په گډه ددښمن دماتی په حال کی قواو باندی سخت اوځپونکی گوزارونه کوی .

خبروایی : دکابل رژیم دمجاهدینو پرضد دلیری ویشتونکو راکټونو او جټ الوتکو څخه کاراخلی چی دهغه په نتیجه کی تراوسه دوه تنه مجاهدین شهیدان اویوتن ټپی شویدی .

مجاهدینو دبادغیس ولایت ۷۵ غونډ ...

خبرخپور کړی او زیاته کړی یی ده چی مجاهدینو دخپلو اوه ورځنی عملیاتو په نتیجه کی وکولای شول د ۷۵ـام غونډ مرستیال له ۸۰ کسه عسکرو سره ، اوهمدارنگه داب کمری دولسوالی ولسوال ډاکترعبدالصمد له ۵ تنو مامورینو سره ژوندی ونیسی ، اوپدی توگه دغه سیمه دمزدوررژیم له لاس څخه ازاده کړی .

خبرزیاتوی چی ددی جگړی په نتیجه کی دقلعه نو په شمال ختیځه ښاری علاقه کی واقع د ۷۵ـام غونډ څخه مجاهدینو ۸۰ میله کلاشینکوف ، ۱۱ میله ماشینداری ، دوه میله ار ، پی ، جی ، ۷ راکټونه ، ۱۲۵ صندوقه مرمی ، یوه عراده کاماز موټر اویوه زیاته اندازه لوژستیکی مواد ترلاسه کړی خبرځای زیاته کړی ، چی داب کمری ولسوالی دبادغیس ولایت مرکز قلعه نو سار څخه ٤ کیلومتره لری په جنوب لویدیزه برخه کی پرته ده اودادبادغیس ولایت پنځمه اووروستنی ولسوالی ده چی مجاهدین هغه فتح کوی .

ددی نښتو په جریان کی دمزدوررژیم پاتی قواوی دقلعه نو ښار مرکز ته تیښته کړی ، اوپدی توگه دقلعه نو دښار جنوب لویدیز امنیتی کمربندمات اودمجاهدینو اکمالاتی لاری خلاصی شوی دی .

په خبر کی داهم ویل شوی چی دعملیاتو په لړکی او له هغی وروسته روسی جنگی الوتکو دروسیی خاوری څخه الوتنه کوله او دقلعه نو ، اب کمری اودهغه شاوخوا سیمی یی تربرید لاندی نیولی ، چی دهغی په نتیجه کی ددی سیمو یو شمیر بی گناه اوسیدونکی شهیدان شول .

دسروبی ولسوالی مجاهدینو دمزدوررژیم پرامنیتی کمربند برید وکړ

په هغو خبرونو کی چی دکابل ولایت دسروبی ولسوالی څخه دقوماندانانو سرتاسری شورا نظامی مرکز ته مخابره شوی ویل شوی چی ددی ولسوالی زړورو مجاهدینو دکب میاشتی په ۲۳ مه نیټه دمزدوررژیم پرنظامی قرارگاه ، اودکابل دامنیتی کمربند پرپوستو برید وکړ چی په نتیجه کی ددښمن دمهماتو یوه ډیپو وسوځول شوه دعسکرو هستوگنی دری اطاقه،یومیل هاوان ، اویو میل زیکویك تخریب شول .

خبرځای زیاته کړی ده چی پدی عملیاتو کی ددښمن دوه پوستی فتحه،شپږ میله کلاشینکوف،یومیل ماشیندار ، یومیل تومانچه او یوه پایه مخابره مجاهدینو غنیمت کړی دی پدی عملیاتو کی ددښمن له قراو څخه پنځه کسه مړه اواوه تنه نور ژوندی نیول شوی همدارنگه دسروبی ولسوالی څخه دقوماندانانو سرتاسری شورا ته په رسیدلی یوه بل خبر کی ویل شوی چی دهغه ماین دچاودلو له امله چی مجاهدینو دبرق دبند اونظامی پوستو ترمنځ فرش کړی ؤ ددښمن یوه عراده اکمالاتی موټرله منځه لاړ، اوددښمن اوه کسه عسکر مړه اودری کسه نورزخمیان شول .